ليکونکی: ستيفا ن لند من (Stephan Landman).
منبع اود خپريدو نيټه: ګلوبال ريسرچ «2020-06-12».
ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---------------------------------[62] ---------------------------------

# دنړيوال جرمونو محکمی په افغانستان کي دمتحده ايالاتو دجنګي جرمونو په اړه څيړنه ، ترامپ هغه بيرته رد کړ چی دا دمتحده ايالاتو لپاره «ګواښ» دی

## ICC Probe of US War Crimes in Afghanistan.Trump lashes back ICC is "threat" to America



لوی څارنواله آغلی فتو بينسوادا دنړيوال جرمونو دمحکمی څارنوال قاضي

داخبره اوس په بشپړه بڼی سره مطرح اومشخصه شوی ، چي ا فغا نستا ن ، طا لبا ن او **اسامه بن «لادن»** د سپټا مبرد يولسمي نيټی پيښی سره هيڅ تړاو نه در لود. بلکه ددي تولو له دروغو ډکو تمويل کړشوی بيرقونومور دامريکی ددولت ترملاتړ د امريکی دمتحده ايالاتو يودبل پسي د نورو ملتونو د له مينځه وړلو ته پلمه ده.
دمتحده ايالاتو نوی زريزه( ميلينيوم) د تل لپا ره دد ښمنا نوپه وړاندی دجنګونو رامينځته کيدل ده کوم چی ددی له تا وتريخوالی څخه ډکی مسلي دامريکی دغير قابل انکارجنا يا تو

پایلی دله له مینځه وړلو اویا دهغه دحل لپاره کوم ځانګړی لړ لید نه ترسترګو کیږی اوداځکه چي جمهوری غوښتونکي او د یمو کراتان په ګډه سره د نړی سوله اود قا نون حاکمیت ردوی یا یی چي نه غواړي .

دالاتراوسه څرګنده نده چي په نړیواله جنایی محکمه کی دهغه محکمی تحقیق یا څیړنه به په ا فغا نستا ن کي دامریکی د متحده ایالاتو د مسولو مقا ما تو دغیر قابل انکار جنا یا تو اودکړو جرمونو پا یلي به څه وي ؟

دجرمونو نړیواله محکمه په کال(2002) دروم دقا نون له رامینځته کیدوڅخه بیا لاتراوسه امریکي ، نورغربی هیوادونه اواسرایل دجګړي اودا نسا نیت سره د بد چلند په وړاندي دلوړوجرمونو د ترسره کولو له امله په کوم سزا نه دی مجرم کړي یا داچي هغوی (امریکا غربی هیوادونه اواسرایل) ځا ن مجبور کړي نه دي چي په نوموړی محکمه کی دخپل بی ګناهی د ا ثبا ت لپاره حا ضر شوی وی.

بلکه یوازی دهغوی قربانیان په ناسا لم او غلطه بنی سره د متحده ایالاتو ، نا تو ،اسرایل او ددوی سره نورامپریالیستي ملګرو دجرمونو اودجنا یا تو د ترسره کولو په تور یا په بد ل کي سره محکمه شوی یا چی هغو ته ستخته جزا اورول شوی .

***نړیواله جنا یی محکمه*** (international crimes court=ICC) نژدي د دوه لسیزو لپاره دامپراتوری (امپریالیزم) دوسلی یا د یو ابزارپه بنه پکار وړل شوی یاخپل دندي دامپریالیزم په چوپړ کی ترسره کړي – کوم چي امپریالیزم لا اوس هم غواړي چي دغه محکمه خپل اجندا لکه د مخکي په شان دا مپریالیزم په چوپړ کی سره دوام ورکړي پرته له دي چی د عدالت او انصاف د تا مین لپاره یو مستقل محکمه را مینځته شی چي د ا نسا ن اود بشریت پرضد مجرمواشخاضو ته سزا ورکړي .

که څه هم دانسا نیت ، نسل وژنی ، یرغل اود جنسی تیری په وړاندي دغه نړیواله دجرمونو محکمه دجنګی جرمونو اصلی اشخا ص (نه ملتونه) لپاره دا سی کوم دترسره کولو تاکلی هدف لا نده تاکلي .

نو ددی ګډوډونکي (بی سرنوشتی یا اړی دوړی) تاریخ ته په پام کي نیول سره دیو نوی ځوځنده جهش یا خوځښت ته اړتیا لیدل کیږي چي رامینځته شي اوهغه هم په دي باور چی دغه نوی رامینځته کړ شوی خوځښت به داسی یوځای ته ځی چي مخکي هیڅکله هغه ځای ته نه وی تللی .

یا داچي ددی لپاره چي دیوی بلی لاری دپرمخ وړلو ته د شکمنو خلکو شکونه لیری شی اودهغوی باید چي قناعت تر لاسه کړ شی نو .........

د مارچ دمیاشتی په پیل کي ددغه دجرمونو نړیوال محکمی قاضیا نو ، دمتحده ایالاتو دپوځ

اودهغه هیواد استخباراتی پرسونل ، افغان ځواکونواوپه هیواد کي د طا لبا نو له خوا دجنګی جرمونو تورونو په اړه د تحقیقا تو د ترسره کولو اجا زه ورکړه .
دقاضی **پیوتر هوفمنسکي**(Piotr Hofmansk) به وینا ، د لوی څارنواله اغلی **فتوبنسوادا** (Fatou Bensouda) واک لري چي دمي دمیاشتي له لمړي کال (2003) څخه راهیسی دافغانستان په خاوره کي دادعا شوی جرمونو په وړاندي پلټنی پیل کړي .
په دي تحقیق کي ممکن دجولای میاشتی لمړی نیټه هم شامل وی اما نو ولی دمتحده ایالاتو د یرغل څخه (7-10-01) د لمړي ورځی ترسره کړ شوی جرمونه هم ونه څېړل شی یا له هغه څخه تحقیق ونشي ؟
د یا دونی وړخبره داچی دا فغا نستا ن سره د امریکی د متحده ایالاتو د جنګ د پیل نیټه سپټا مبر د یولسمی نیټی څخه لا د مخه پلان کړ شوی وه کوم چي د هغه دایرکتیف د پلان کړشو په قفسچه کی پرځای شوی وه چي یرغل کونکو، دیرغل لپاره چمتو وو اما د(پنځه ) اونیو څخه وروسته دغه تیا کونکي ورځ رامینځته شو یا داچي پر ا فغا نستا ن باند یرغل تر سره شو.

دامریکی دمتحده ایالاتو دتولو جنګونو زیاتو میاشتو لا دمخه دپلان کولو مسله هغوی ته داسی کوم ځا نګړتیا نه لری یا چی هغوی د پلان کړ شوی مسلی ته په عملی بنی چندان پام نه کوي بلکه هر څه چي زړه وغواړي همغسی کوي !
د جرمونو نړیوال محکمی دمارچ دمیاشی داعلامیی دورکولو په مها ل کي ، **پمپیو** دهغه اعلا میی سره د خپل غبرګون په ښودلو وویل چی دا یو ساه نیونکي اوبی ملاحظی یا یو بی باکه اعلامیه ده نو که چیری دوی په ا فغا نستا ن یا په کوم بل ځای کي دمتحده ایالاتو کړنی وڅیړی نو د محکمی د چارواکو په وړاندي له هیڅ هلي ځلی د غچ اخیستو څخه به دریغ ونکړي .
**بینسوا د ا،** وویل: چی دجرمونو نړیواله محکمه پریکړه کړي چي په ا فغا نستا ن کي د متحده ایالاتو ځواکونو او استخبا را تی کړیو لخوا جنګی جرمونو د څیړلو لپاره منا سب اسا س شتون لری .
هغه با ید و یلی وو چي ددی لامل موجود دي چی د متحده ایالاتو د ترور ِغیر قا نونی بند یزونو اود سولي په وړاندي د نورو د ښمنا نو عملونو اوکړنو په شمول د متحده ایالاتو د ټولو یرغلونو تحقیقا تو لپا ره پلټنه وکړي چي په نورو لارو دجنګ را مینځته کول دي .
کوم چي دټولي پورتني قضیو راڅیړل دجرمنو دنړیوال محکمی دندی دي.
د متحده ایالاتو نوی مستقیم میلینوم(زیریزه) ، نوبتی (پراکسی) اویواځی د تودوخي او

تاوتریخوالی نوردولونه په بی شمیر هیوادونوکی دبی شمیره ملیونو ژوند ، پراخه ویجاړتیا اود بشری بد مرغیو لپا ره مسول هیواد دي .

دوی یعنی دهمدی هیواد مسول کړي یاحلقی همدارنګه د متحده ایالاتود اختیا ری عاید په کارولوسره دهیواد نظامی ،صنعتی ،امنیتی کمپلکس ته د تغذ یه ورکولو یا دخواړه چمتو کولو لپاره کوم چي دحیا تی اړتیا وپه لګښت (داجتماعی بودجی کارول) سره ترسره کیږي خلکو ته خورا ډیر زیان رسولي .

**ویکی لیکس** دافغا ن دجنګ جریانونه د ملت اودخلکو په وړاندی د متحده ایالاتو تر ټولو لوړ جنا یتونه مستند کړي دي .

دداسی یو ملت په وړاندي د متحده ایالاتو د یرغل خورا پراخه سند وړاندي کوي چي هیچا لاتراوسه د پټتا ګون د تهد یدی مقالاتو له لاری داسی پراخه سند نه دی وړاندي کړي

دغه تر لاسه شوی اطلاعا ت یا معلومات په عمده بڼی سره له سرتیرو ، اطلاعا تی افسرانو او له سفا رتونو څخه تر لاسه شوی اطلاعات دي .

هغوي یعنی راپور ورکونکو په افغانستان کي د متحده ایالاتو جنایتونه په شمول ، اختلاس تحریف اوجعل کاری پوښښ ورکړي دي .

او هغه داچي ټول جګړی دغلطو اطلاعاتو ، بی لاری کوني او لوي دروغ اودخطا ایستنی پر بنیاد ترسره شوی دي. یا چی په جنګ لاس پور شوي .

مهم خبره خو دادي چي ریښتیا ویل به ددوی د ځیلو لپاره پلمی له مینځه ویسی یعنی که په اړین موضوع په ریښتیا با ندی تکیه شي نو دهغو دځیلو لپا ره پلمی له مینځه ځي .

د ملګروملتونو د سا زمان منشور په ډاګه ا وصراحت سره څرکند کړي چي وایي :

دکومو حالاتو یا دکومو شریطو تر لاندی دیو ملت جنګ د بل ملت سره مجا ز دي .

2(3) او 33(1) مواد یا مادی تشریح کوی چی څرنګه یو نړیواله شخړه په مسا لمت امیز بڼی سره دخبرو اترو له لاری حل و فصل کړ شي .

2 (4) ما ده تشریح کوی چی نه با ید یوه مسله یا یوه شخړه د زور او ګواښ پواسطه سره حل کړ شی یعنی چی دلته زور او ګواښ منع کړي دي .

همدارنګه ددی منشور (51) دخپل ځان ددفاع حق ته اجازه ورکوی که چیری پر هغه غړي با ندی مسلحا نه یرغل شوی اوسی یا یرغل اوشی .........تر هغه چی دملګرو ملتونو دامنیت شورا دسولی دسا تلو اود امنیت درامینځته کولو په اړین تد بیرونه ونیسی . نو هغه غړی هیواد کولای شی چی له خپل ځان څخه دفاع وکړي .

له خپل ځا نه څخه په دفاع کولو کی با ید وړ توجیه ولری اما په هیڅ بڼی سره اوبی له

*کوم استثنا څخه دا حق نه لری چي دجګړی دمخنيوی لپاره مخکی له مخکي په جګړه لاس پوري کړي .*

*داموباید په خاطر کی وی اوهغه داچي یوازي دملګروملتونو دامنيت شورا ددی پریکړی واک لري چي په کوموحالاتو اودکومو شرایطو لاندی جنګ جوړ (warmaking) کړی یا جنګ کولو ته اجازه ورکړي نه ددولت مشران ،قانون جوړونکي اویا چیری کومه محکمه*

*دملګرو ملتونو عمومی غونډه یا مجمع په کال (1974) کي ، یرغل یا تهاجم په دی ډول تعریف کړ : «یرغل د یو دولت یا دیو هیواد لخوا د بل هیواد د خپلواکي ، ځمکنی بشپړتیا ، یا دهغه دسیا سی خپلواکي پر وړاندي کوم چي وسله وال ځواک وکاروي ، یا هر هغه کړنه کوم چي دملګرو ملتونو دمنشور سره موافق ونه اوسی ، یرغل دي» .*

*د دوهمی نړیوال جګړي څخه وروسته مودی یا د دوری د جریا ن په اوږدو کي متحده ایالات څو ځو ځلی ګرم او مقصر ګڼل شوی اونن په څو تیاترونو کي لا لنډ پار و ګناهګار پیژندل کیږي .*

*یعنی هغه څه چي را پیښیږي له تصوره د باندي دی یعنی چي غیر قابل تصور دی لکه همغه څه دي چي **رابرت جکسون** (Robert Jackson) د نورنبرګ د محکمی قاضی ، د سولي په وړاندي نړیواله عا لی جرم بللی دي .*

*دامریکي متحده ایالات وخت نا وخت او وار په وار سره د ملګرو ملتونو منشور ، دجينيوا کنوانسیونونه ،د متحده ایالاتو دجنګی جرمونو قانون ، د ملګرو ملتونو دشکنجی کنوانسیون ، د ملګرو ملتونو دمد نی اوسیا سی نړیوال حقونو تړون ، د نژادي تبعیض د ټولو ډولونو له مینځه وړلو نړیوال کنوانسیون ، د ما شوما نو د حقونو په اړه دملګرو ملتونو کنوانسیون ، د جرمونو نړیوال محکمی دروم قا نون د بشری حقونو نړیوال اعلامیه د نسل وژنی کنوانسیون، د نورنبرک منشور ، قضا وت او اسا سا ت د متحده ایالاتو داردو (پوځ) د ساحی لارښود (27-10) اوداسی نور نقض کړی یا له هغه څخه سرغړونه کړي دي . نو که امریکي سره ددغه سرغړونو او له نړیوالو قوانینو دنه مراعا ت کولو له امله محکمه نشی یا دهغه څخه پوښتنی ترسره نشي نو دغه نړیوال دجرمونو محکمه د امریکی ددغه نا فرما نی په مقا بل کي څه با ید وکړي ؟*

*لکه هغسی چي **ویکی لیکس** په ا فغا نستا ن اوپه عراق کي د متحده ایالاتو د ظلمونو په مستند کولو کی د جګړي د مه اوغبا ر را پورته کړ. یا دامریکي دکړي ظلمونو څخه پرده را پورته کړ.*

***جولیان اسا نژ (Julian Assange)** او **چیلسی ما ننیګ (Chelsea Manning)** له*

دی کبله په ډیر وحشیا نه اوبرحما نه بنی سره زندان ته واچول شو کوم چي هغوی دا فغا نستا ن دجګړی د یادونو اد خاطراتو دفتر اود یوان او هم دعراق د جګړی نقشه او تومار دجا نبی قتلونو وید و ، اودامریکي پوری اړیني د بیلما تیک کیبلونه را وڅیړل یا افشا کړل .

هغوی له دی نه چی دخپل دغه ا نسا نی کا ر په بدل کی نا زول شوی وایی کوم چی ریښتیا وینه او دجرمونونو ا فشا کول د هرانسان طبعی حق دی نو دوی دهغه په عوض په ډیر وحشیا نه بنی سره زندان ته واچول شو اوبند یان شول .

په ا فغا نستا ن کي د متحده ایالاتو دجنګی جرمونود پلټنی لپاره دنړیوال جرمونود محکمی داعلان کړ شوی اراده یا پریکړی په ځواب کي «ترامپ» یو ملی اضطراری حا لت دهغه څه لپاره اعلان کړ چی دامریکا لپاره دنړیوال جرمونو دمحکمی اراده یو «ګواښ » دي .

نو« ترامپ » ددی پریکړي په غیرګون یو اجرایوی حکم صادرکړ چي ددی محکمی چارواکی اوددوی دکورنی غړوپه وړاندي یولړغیر قانونی بند یزیونه اود ویزي محدودیتونه تصویب کړ .

**پمپیو** دامریکی دمتحده ایالاتو دبا ند نی چارو وزیر پردغه دبین المللی جرمونو پرمحکمی باندی ډیر سخت ګوزارونه وکړ اوداسی یی څرګند کړ : چی د«ترامپ » رژیم هوډ من اومصمم دی چی امریکایان اوزمونږ ملګری ، متحدین اواسرایل دنړی پر هر ځای کي ددغه نړیوال دجرمونومحکمی د پلټنی اودتعقیب په وړاندی خوندی وساتي .

نو د « ترامپ » د رژیم ددی خبرتیا په ځواب کي نوموړی محکمه (ICC) داسی وویل : ناوړه چلند اوزورواکی کړنی دقانون حاکمیت په وړاندي نشی خنډ کیدای .

**ددونا لد ترامپ** دررژیم له خوا دا ډول بریدونه اویا حملی دقانون دحاکمیت اود محکمی قضایی اجراتو کی مداخله یوه تیری اودنه منلو هڅه او اند وه .

پر آی سی سی (د نړیوال جرمونو محکمه ) با ندي برید هم دقربانیانو دګټو پر وړاندي برید ښیي چی دا پخپله یو ظا لما نه جرم دی اومحکمه ددوی لپاره دعدالت دتامینولو هیلی څرګند وی یا دهغوی لپاره دعدالت در امینځته کیدو هلی ځلی کوي .

په کال (2002) دمتحده ایالاتو دخدماتو دغړو محافظتی قانون ( American service members protection Act) یا د (لا هه پرقانون با ندي تهاجم ) یا دامریکی د نظامی کارمندانو او د نورو تولو منتخب او منتصب امریکایانو سا تنی او محا فظت د بین المللی محا کمو له تعقیب او پیګرد څخه په تصویب ورسید.

دغه تصویب کړ شوی مقرره یا اقدام جمهور ریس ته اجازه ورکړي چی «ټولی هغه لازمی اومناسبی لاری وکاروی چي دمتحده ایالاتو کارمندان ، پرسونل ، منسوبین او خپل

متحد ین چي په استا ذ یتوب اویا پخپله د بین المللی محا کمو له خوا د جرم په کولو سره زندانی شوی وی هغه مجرم له بنده څخه خلاصه کړي ».

متحده ایالات د روم قا نون « د نړیوال جرمونو د محکمی » رسمی غړی نه دی او دهغه اسا سنا مه ندی منلی .

د **نړیوال قضا یی قویی اصول** (universal jurisdiction) په دی با ور دی چي ځنی جنایات اوجرمونه دسرغړونکو له خوا نا لید لی په نظر کی نیول کیږي یا دهغه له اصولو څخه سترګي پټوی دهغه له جملی څخه نسل کشی ، جنګي جنا یا ت د بشریت په وړاندي.

د (UJ=universal jurisdiction) یا د نړیوال قضا یی قویی اصولو تر لاندي ،هیوادونه ممکن وی چي پردی اتباع څخه پوښتنی او تحقیق وکړي اویا هغه اتباع تر تعقیب اوپیګرد لاندي ونیسی کله چی ددوی د استوګنځی یا داصلی تابوبی مقامات د کوم دلیل په وجه دهغو څخه پوښتنه او درویجنه ونکړی یا داچي ونشی کړلي ؟ .

دمتحده ایالاتو مسولین دنورنبرګ په کچه دجګړي اوپه افغانستان کي دبشریت پروړاندی لوړی جرمونه اوهم په بوشمیر نورهیوادونو کی تردی حده خورا جدی دی چی له هرډول جرم اوجنا یت څخه سترګي پټی کړي .

ددی چاړواکو سره د نه محاسبه کولو یا دهغوی عدم مسو لیت له اوږد مودی څخه پای ته رسیدلي یا داچی دهغو څخه دکړي جرمونو بازخواست چا نه دی کړي !

امادا به ډیر ښه وایی چی هغوی دی ته مجبورکړشوی وایی چی له مسولیته څخه ترشا شوی نه وایي یعنی چی مسولت دهغو په غاړه پا تی شوای وایي چی دامریکی د متحده ایالاتو دایمی جنګونه کوم چي د بشریت په وړاندی مخ ته وړل کیږی دسولی اود ثبا ت دترلاسه کولو ته ښه چا نس ترلاسه کیده اوپه غیر دهغه ممکن دی چي یوه ورځ مونږ تول ووژنی که چیری د متحده ایالاتو د جګړه مارو کوم چي له مسولت څخه وړه تشوی، مخه ونه نیول شي .

**-------------------------------- په سلا مونو «2020-06-17»**